## انتظار

داوښکوپرخــــه مې بې ګــله راځـــي
زمـا دګـل کـډې بـه کـلــه راځـــي
تـشې جونـګړې مې دســترګـوپـاتــې
ورتـه بـــه کــله ډېــوه بلــه راځـــي
بې تــانه مــرارمـان مـــې غرېـنـه کــوي
که مسیحا ورتــه څــوځــله راځـــي
زه یــې دیـاردلاســه زربـــولـــه
که مـات کـچکول ته مې خـــزلـه راځي
مــا په زړګــي کــې ورتــه ځـاله جـوړه
خوکـه په ناز ورتــه بلبـــله راځـــي
د دارکــــړۍ کې جــوتې ځومــره خـوند کـا
چــې ننـــداري تــه یارپه خپــله راځي
زه به لـــه تـنـدې زاره چــاودې وُمــه
دساقي لاس کې بــه جـــام هــله راځـــي
جرس بــه ډیــر په چــیغوزوړبـــــړي
ستړې کاروان چې ترمنزله لــــه راځـــي

۱۳/ ۳/ ۱۳٦٥ دنریزې کلي

# غوښتنه

دزاهد په کانو ژوبل ، دساقي په غېږکې پروت وای
یا دسروونیو خال وای ، دتندي په غېږکې پروت وای
گرم عشق وای ویلې کړی ، دگودراوبوکې حل وای
پښتني لپوکې جگ وای، دمنگي په غېږکې پروت وای
چاپه څنوکې ټومبلی ، چا پټکوکې لگولی
لوغړن سوی ببری وای ، دکودي په غېږکې پروت وای
سوی لوی سپېلنی وای ، دیارحسن ته لوگی وای
دپښتودسرو سکروټو، دنغري په غېږکې پروت وای
چې دمینې مړاوی گل مې ، په سروونو راژوندی وای
خیر دی زه دې ځوانیمرگ هم ، دمرگي په غېږکې پروت وای
دکاروان یوخوږغزل وای ، له سلگی سره سلگی وای
گرځیدای په ژوبلوزړونو، دځگېروي په غېږکې پروت وای

۱۳۶۶/۱/۱۲

# مه گوره

زړو نو ته هم گوره اشناتش مخونه مه گوره
هسې نه خطا شې کاغذي گلونه مه گوره
ښکلیه که دمیني او الفت سره دې مینه وي
مینه ښکلوه خوتش اوډك جېبونه مه گوره
داغښکه خمار دی چې په سرجا مونه واړوې ؟
کوم ساقي ویل دوینو ډك جامونه مه گوره ؟
تاکه د خلیل عزم پیدا کړو تو گلزار به شې
ژبې دې را باسي دنمرود اوررونه مه گوره
نه خوپسرلی بې نه خواوښکې وروړلی شې
څه! په وچو سترگو دلاله داغونه مه گوره
دا «غنچې» «مهجورو» بلبلانوته هجران گالي
تکه توره زاڅه سترمن باغونه مه گوره
وخته یو یادگاردی دجانان په درکې پاتې دی
اوس مې دښکیدلي گرېوانه تارونه مه گوره
ته چې د زړگي ډیوه کې وینه بلوی نه شې
مه راڅه دعشق د خوږارمان قبرونه مه گوره
زه دلېونیو له کاروان سره راغلی یم
مست قلم مې گوره دا ځيږه لاسونه مه گوره

تنې دچور کونډي دځنکل لمن ۱۳۲۸/۹/۲۷

## دسترګو ګودرونه

ښکلو مې که زړه کې خنجرونه وکـــرل
ما په هر پرهرکې بهارونه وکـــرل
داداوښکو تخم چې ډیوې راشـــنې کوي
چاپه تورماښام کې سهـــارونه وکـــرل؟
نن چې دسپوږمۍ څولۍ کې ستورې ټولوم
ګوري به سبا چې مې لمرونه وکړل
پام! په منصوري رنګین ګناه یمه مـیـن
رامې شي خندا چې تادارونه وکـــرل
وابه وري درخومستې نغمې دمحـبت
بیا دادم ګوتو شا تارونه وکړل
سپینې مرغه کۍ به تورو غرونوته راځي
تورو که څومینه کې تـــورونه وکـــرل
ناوې دموسکا ته به شالونه کړي راښـــنه
خیرکه مې دبڼه ګرېوان تارونه وکـــرل
ماتې به شي تندې دمودوپه یـــونظر
سترګو که په زړونـــو ګودرونه وکـــرل
جوړمې کړود. درد سترې کاروان ته دمه ځای
ماد ژوند په شاړه کې شعرونه وکـــرل

پېښور ٤/ اکتوبر/ ۱۹۹۱

# ته .....

## ته يو شهكار وې شهكار

ته يو كتاب وې دښكلا د غزلونوكتاب
ته يو تخليق وې دفطرت ديوه بې مثله شاعر
ته يې وې كښلى په باريكو گوتو
دتبسم په قلم
ته يو رباب وې يو سرمسته رباب
د ژوند گډا ته شرنگيدلى رباب
لكه ماشوم دې ووكټ كټ خندلي
دعشق په گوتو تخنيدلى رباب
ته يورباب وې يوسرمسته رباب
ته مستانه ساقي وې
ستا په شرابو كې په جوش وو دالفت رنگونه
تا دتاك وينه ښښتېځله دصفا په گوتو
په كې يوه ذره كينه هم نه وه
ته وې مونس دترږوزړونو او دوچو شونډو
ته يو سخي ساقي وې
اوستا شراب دشومنتيا خم كې راگيرشوي نه وو
ستا ميخانې لكه چينې بهيدې
چې د زاهد ورته توبې ماتيدې
اې ښايسته شهكاره

# دپرښتي خوب

یو چمن وشین چمن و.
داسي ښکلی
لکه لرې دشیطان له وسوسونه
خوب دښکلوپرښتو
دګلونو وه ښکا لو
دمرغانو دنغمو
دوړمود قافلو
یوله بله وو تېکر
لکه ځونشه مستان
خدای راکوزکړد فردوس له ښکلې غېږې
یو مین شینکی سحر
اوس یې ورو ورو لمبوي
په چینه دتنکې لمر
لکه ولامبي مریمه
ځوبدرنګې زمانې ته
کړي له غیبه را پیدا
یو مشال یو مسیحا
د فطرت له رنګینیو
دښکلا وو په لمن کې
یو ه پیغله په ترپکو
لکه مسته غرځنۍ وه
دمړوند بنګړي یې مات وو

بدري جماله يې سلام ته راځي
څه مستانه شوردي غوړونه کيږدئ
راغلې څپې دسندريزې خندا
هغه دي هغه ، دبتانو جنازې ووتې
چې دسحر وينې يې څښلې هغه شپې ووتې
هغه چې تش نوم يې دښارپه مري
لکه خپسه پروت و
يوه ياغي آواز دښار له مريوشو کاوه
دوخت بودۍ زړه ريتا ړه کې دغوټې په شان
دعدم تاخ ته ورو وړوغورځاوه
څه مستانه شوردي غوړونه کيږدي٠
څه دتودې موسکا تندرونه اوري
درښو اوښکو دريا بونه وچ شول
جادولوګی شو ، طلسمونهوچ شول
جادو ځپلې سترګې وغړيدې
هلته دوينو دساحل په غاړه
د يوه نهنګ له ګنده شوې تنې
دچا په وينو لمبيدلی شال بادونو يوړ
دنظر غشوته بربنډ پاتې شو
سور خونړی جهان يې شنډ پاتې شو
ژر به دخاورو په انبارکې پټ شي

# زموږ دګلي شنه توتیان سپینې کوترې

خدا یه ستاکومې پرښتې واخیسته ؟
په نوراني منګولو
دګلو ړموپسته وریښمینه جارو
چې یې دلرګلي اسمان جاروکړ
له تورو وریځو اوله تورو لړو
خدایه دلرګلي په شنو توتیانو
په سپینو سپینو جنتي کوترو
ته څومره ډیروروي
دښایستو نو باران
چې له بڼکونه یې
بوي دچندڼو راځي
چې له خبرونه یې
بوی دسندرو راځي
خدایه بخښې مې که نه ؟
توبه توبه
دلراوبرګلي عظیمه خدایه !
له تاکومه ګیله
ستا هغه ډیرې پرښتې خدایه په کومه لاړې ؟
ته ورته غږکړه چې دبرګلي اسمان جاروکړي

# دباران زګیروی

دا خو شپې سرېه سرد باغ په ستونې
یوه خپسه ناسته
د باغ تنکي ګلونه
اغزن خوبونه ویني
باران له تري باغ نه باد په دیکه ټیل وهلو
او داغزوپه غېږېې و وارووه
پانوزګیروی د باران واوریدو او وبووږنیدې
دسپیره بادله ویرې ورپیدې
بلبل دپرخې په ځای سرې سکروټې وځبیښلې
ژبه یې ګونګه شوه نغمې نه ورځي
خولا دګل کنډول یې هیرنه دی توبې نه ورځي
آه دماشومو ګل غوټو په شونډو
سپېره ګردونه پراته
اغزوتیونه د سپوږمۍ رودلي
په هره څوکه یې ټوټې ټوټې الماس ځلیږي
اوس په ګلونو باندې ناز خرځوي
باغ د فرعون په قبضه کښې پروت دی
اوچار چاپیر تري د اغزیو د یو الونه تاودي
باغ ته په شنو ګامونو

